DAILY
اراده
د افغان نشراتی مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

سال چهارم شماره ۱۲۷
شماره مسلسل ۴۸۶
یکشنبه ۱۷ جوزا ۱۳۸۳ هش
۱۷ ربیع الثانی ۱۴۲۵ هـ ق
6 June , 2004

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

دهها جنگجوی طالبان در محاصره قرار دارند

۲۲ تن کشته و ۸ تن دیگر دستگیر شده است

دهها جنگجوی طالب در منطقه هزار بز، محلی میان ولایات کندهار و زابل در محاصره قرار گرفته است.

جان محمد والی ارزگان با ارایه این مطلب گفت: از دوصد تا سه صد جنگجوی طالبان که در جمع آنان قوماندانان مشهور چون ملا روزی ، ملا قهار، ملا امیر خان حقانی و مولوی ثاقب شامل هستند محاصره شده اند.

وی افزود درین عملیات که از چند روز بدینسو ادامه یافته است علاوه از نیروهای مربوط ولایت ارزگان نیروهای ائتلاف بین المللی به رهبری امریکا وقوت های از ولایات زابل و کندهار هم سهم دارند که تعداد شان به یک هزار نفر میرسد.

به گفته والی ارزگان در این عملیات نظامی بیست و دو طالب مسلح کشته و هشت تن دیگر با سلاح های دست داشته شان دستگیر شده اند.

سرمقاله

د لوی او بښونکی خدای په نامه

باید کار مؤثری انجام داد

یکی از موارد تأسف انگیز که در کشور ما همواره قابل تأمل مینماید، اینست که تمام ارزشهای ما قربانی تبلیغات می گردد و با وعده دادنها شاید این پنداشت را که مردم زود قانع میشوند مقامات میخواهند خود را سبکبار سازند تاتوسن قدرت را همیشه در زیر پا داشته باشند.

وعده داده شد که مقامات و مسئوولین دولتی باید اندازه عایدات ودارایی های خود را به ثبت برسانند، جز رئیس دولت انتقالی ودوسه نفر وزیر هیچکسی حاضر به این کار نشد.

همچنان اصلاح اداره ونظامی که بر کشور فرمان میراند، به مثابه نوشته یی است بریخ که در آفتاب گذاشته شده است از ین گذشته مسأله مهمتر دیگر صرف بی رویه وغارتگرانه ملیونها دالریست که در دامن انجوها مانند گذشته سرازیر میگردد.

دولت نسبت به آن در سال اول رویکار آمدن خویش ملاحظاتی داشت ومقام وزارت مالیه دولت اسلامی دریکی از مصاحبه ها به مردم وعده داد که به منظور جلوگیری از حیف ومیل پول های کمک شده کشور های جهان به مردم افغانستان مقرره یی را سردست دارد که مسأله حسابدهی وحسابرسی انجو ها را در آن مدنظر قرار خواهد داد.

به تعقیب آن مقامات دولت انجوها را مثل سایر موارد به انجوهای خوب و بددسته بندی کردند.

با چنین استدلالی که گویا انجوهایی هم وجود دارند که با پولهای هنگفت بدست آورده ، کارهایی را انجام میدهند؟!

پندار ناباورانه یی که هیچکس نمیتواند حقیقت آنرا به اثبات برساند!

اکنون پس ازیکسال از مقامات مسئوول میپرسیم که چه شد آن مقرره وعده داده شده؟

خوشبختانه یکی از وزرای کابینه که عملکرد های منصفانه و اجرات دلسوزانه اش برای مردم ووطن آشکار شده است. وزیر پلان دولت انتقالی اسلامی آقای رمضان بشر دوست یکبار دیگر صرف بیجا وبیمورد ملیونها دالر را بوسیله انجو ها انگشت گذاشته است.

ص۴

ائتلافي ځواکونه په دوو جګړو کې رابنکیل شول



په افغانستان کې دمتحده ایالتونو دپوځ ویاند وایی چې دامریکا ځواکونه ددولت له مخالفینو سره په دوو جلا جلا جګړو کې بنکیل دي چې دده په وینا دغه اورپکې دمتحده ایلاتونو او دکابل دحکومت مخالفت کوي. ده وویل چې دجمعی په شپه په ارزګان کې امریکایی سنمدري ځواکونو د اوپکو له لوی شمیر سره جګړه و کړه ده زیاته کړه :

۴مخ

دکورنیو چارو په وزارت کې چاودنه

دکورنیو چارو وزارت په مقر کې پرون سهار یوه بمی چاودنه وشوه. دچارواکو په وینا چاودنه دهاوان دیوې مرمی دسرګلولی له املې رامنځ ته شوه خو کوم ځانی یا مالی زیان یې نه دی رسولی.

دکورنیو چارو د وزارت ویاند لطیف الله مشعل وویل : دغه سر ګلوله دهاوان دهغو زرګونو مینونو. هاوانونو اودنورو درندو وسلو دمرمیو په منځ کې وچاودیده

۴مخ

دمیرمنو دنوم لیکنې لپاره ګرځنده ټیمونه جوړیږي

دراتلونکو ټول ټاکنو لپاره دنوم لیکنې دبهیر دګړندیتوب په موخه دانتخاباتو ګډ دفتر پتیلې چې دنوم لیکنې په اته زره او څلور سوه ټیمونو سربیره لسګونه ګرځنده نور ټیمونه هم په کار وګماري چې دټولو شمیره نهو زرو مرکزونو ته رسیږي دانتخاباتو دکمیسیون دګډ دفتر مشر ذکیم شاه وایی: نوی جوړ شوي ټیمونه به لرې کلیو او باندو ته دمیرمنو دنوم لیکنې لپاره واستول شي. خو په دې شرط چې دکلیوالو سیمو امنیت خوندی شي. ذکیم شاه په وینا دغه ګام وروسته له هغه پورته کیږي چې خلکو ددغه راز اسانتیاوو درامنځ ته ګولو اودوګړو دډېر ګډون وړاندیزونه کړي دي. دکمیسیون دغه چارواکی ویلی چې دټول ټاکنو دنوم لیکنې په پروسه کې به نور پرمختګ او ځانګړی استانتیاوی رامنځ ته کړي.

۴مخ

درګیری های مسلحانه در خوست افزایش یافته است

دریک درګیری در ولسوالی علیشیر ولایت خوست سه نفر کشته و هشت تن دیگر زخمی شدند. این درګیری در پی دعوا بر سر مالکیت زمین رخ داد. افزایش این نوع موارد باعث نگرانی مردم آن محل شده است. معمولاً جوانان خوست با خود شان سلاح حمل می کنند مردم محل از دولت میخواهند که از نگهداری و حمل سلاح توسط مردم عادی جلو گیری کند.

چندی قبل نیزچنین یک جنگ قومی در یک قریه دیگر خوست رخ داد که طی آن در مراسم عروسی چهار تن را کشتند.

هفده جنگجوی طالبان کشته شد

اردوی امریکا می گوید ۱۷ جنگ جوی مظنون در درګیری با نیروهای تحت قوماندهی امریکا در جنوب افغانستان کشته شده اند.

یک منبع دولتی پیشتر تعداد کشته شدگان را ۱۳ نفر اعلام کرده و گفته بود که اعضای طالبان بوده اند.

ص۲

ماریاکوستا:
ولسمشر دې په مخدره موادو کې لاس لرونکي محاکمه کړي

دملګرو ملتونو له مخدره موادو سره دمبارزې دځانګې مشر انتونیا ماریاکوستا ویلی دتریاکو دبیې تیتیدل به افغانستان دمخدره موادو دکار کوونکو له شرنه خلاص کړي. ده په بهرنیو پوځیانو غږ وکړ چې دافغان سر تیرو سره مرسته وکړی تر څو ددغې کرغیړنې ستونزې له منګلو خپل هیواد ازادی کړي. کوستا ویلی دی :

۴مخ

دلایل افزایش خشونت در مناطق جنوب کشور

یک سخنگوی نظامیان امریکایی گفت که دلیل اصلی اوج گیری خشونت در جنوب افغانستان افزایش فعالیت ها از سوی شبه نظامیان است اما وی گفت که ازدیاد عملیات های نیروهای ایتلاف نیز دلیل دیگری است. در حال حاضر نزدیک به ۲۰هزار سربازا این نیروها به اساس استراتیژی های جدید در منطقه مستقر هستند

ص۴

قوماندان قول اردوی نمبر ۲:
پنجاه نفر کشته شده است

قوماندان قول اردوی ولایت کندهار علت اصلی ازدیاد نا امنی در ولایت جنوب غرب را کمبود نیروهای امنیتی خواند. جنرال خان محمد خان قوماندان قول اردو نمبر۲ در آن ولایت گفته است

ص۴

دوزیرانو په شمیره کې کموالی راځي

دافغانستان ولسمشر حامد کرزی غواړی چې دکابینې دغړیو شمیر له ۲۹ څخه ۲۰ تنو ته راکم کړي. درویټر دراپور له مخې دغه پلان دکرزی له خوا له وړاندې نه جوړ شوی چې له دې سره دکابینې تصویب ته ارتیا لري په جمهوري ریاست کې یو مقام چې نه یې غوښتل نوم یې په ډاګه شي رویټر ٔاژانس ته ویلی:

۴مخ



د بشاغلي خليلزاد په هوم

پرانيستنې لپېک

په افغانستان کې د متحده ايالاتو قدرمن سفير او د بشاغلي جورج بوش خاص استازي جناب خليل زاد صاحب ته په ډېر درنښت!

تاسو ته ښه معلومه ده، چې په دې دريوو لسيزو کې د افغانستان په خاوره او اوسېدونکو څه ناخوالې تېرې شوې نه دي؟ دوه ميليونه قربانيان، يو نيم ميليون معيوبين، د هېواد مادي او معنوي ويجاړوالی، د هېوادوالو تر منځ بې اعتمادي او په نړيواله سطحه د دې هېواد وروسته پاتې والی له نورو هېوادو سره په منطقه کې، چې دا هر څه يوائې د افغانانو د همت، غيرت، شهامت او ملي غرور د ساتنې په خاطر وو.

په دې برخه کې نه غواړم، چې ډېر تفصيل ورکړم دا ځکه هر څه تاسو ته ښه معلوم دي، چې له يوه طرفه په خپله افغان او له بلې خوا په دا درې لسيزو کې تاسو د دې هېواد په سياسي مسايلو کې پوره ونډه درلوده او هلې ځلې مو ټولو افغانانو ته څرګندې دي.

تاسو شاغلی په دې ښه پوهېږی، چې افغانان لوړه، تنده، مرګ، ژوبله او بالاخره هر څه منلی شي، خو د خپلې خاورې ساتنه، ملي غرور او د خپلو مشرانو درناوی د خپلو وينو د تويولو په بدل کې همېشه ساتي، د دې خاورې هر بچي د مور په غېږ کې دا زده کړی ده، چې څنګه خپله شمله او د هېواد د نوميالیو شملې لوړې وساتي، څنګه چې له خپلو ملي نوامیسو څخه د وينو په بدله دفاع کوي همدارنګه خپلو مشرانو ته د توهين، تحقير او سپکاوی زغم هم نه لري او که له هرچا سره دوستي او ملګرتيا هم کوي، نو د متقابله احترام ساتنه ورته ډېره ارزښتناکه ښکاري.

د تاريخ په اوږدو کې به داسې بېلګه پيدا نه شي، چې افغانانو يا په چا تېری کړی وي او يا يې د چا دين، مذهب، کلتور او ملي عنعنو ته په سپکه کتلي وي، خو دا نور دي، چې همېشه يې په دې هېواد تېری کړی، تل يې د افغانانو عنعناتو ته په ټيټه کتلي او تل يې د حرص او طمعې سترګې په دې لور نيولي، له سکندر څخه را نيولې بيا د پخواني شوروي اتحاد تر استعمار پورې همېشه نورو په دې خاوره تېری کړی او همدې سر لوڅو، وږو، تږو او پښيابله هېوادوالو له خپلې خاورې څخه د وينو په بدل دفاع کړې، نورو ته يې آزادي بخښلې، له نورو يې قهرمانان جوړ کړي، ستر متحاوز هېوادونه يې په وړو هېوادو اړولي، امپراطوری يې ور ړنګې کړي، خو په خپله افغانانو په خپلو زړو جونګړو، ختيځو دېوالونو او خامتا جامو بسنه کړې، دا ځکه چې خپلې شملې لوړې وساتي، ډېر تفصيل ته ځکه ضرورت نه وينم، چې په دا هرڅه تاسو خپله ښه پوهېږئ، دا ځکه چې افغان ياست!

را به شم هغه څه ته، چې په همدا څو ورځو کې يې د ډېرو افغانانو په اعصابو او افکارو منفي اثر غورځولی او هغه (Chicago sun times) د ورځپاڼې، چې په ۲۰۰۴/۳۱/۰۵ د (Robert Navak) ليکوال ليکنه ده، چې زموږ د هېواد د ملي مشر شاغلي حامد کرزي په هکله يې په خپله مقاله کې (.....) ليکلي دا چې نو موږ ليکوال د افغانستان د حالاتو او د منطقې له ورځنو تحولاتو څخه بې خبره دی دا د هغه ګناه نه ده، ځکه چې هلته (کوم ځای چې ليکوال اوسېږي نه لوړه شته، نه تنده او نه د ډزو آوازونه)، خو د داسې الفاظو ليکنه نه يوائې موږ د خپل مشر په هکله توهين ګڼو بلکې دا د يو آزاد مستقل او خپلواک افغانستان اوسېدونکو ته د تحقير او تېټې نظر کتنه بولو، شاغلی کرزی نه هغه ورځينی کمونيست، نه پرونی تروريست او نه ننني کېپټلېست دی، دا د جهاد د ورځو مجاهد او د دې هېواد د تمامي ارضيت ساتونکی او د يو ساده، بې ډوله او بې سينګاره ژوند لرونکی افغان دی. د دې هېواد د آزادۍ لپاره يې د کورنۍ ډېر شمېر غړي له لاسه ورکړي، زندانونه، لوړې، تندې، او د مهاجرت شپې او ورځې يې په ډېر کړاو او سختۍ د نورو مهاجرو افغانانو ترڅنګ د پاکستان په اوچت ګامونه واخيستل. موږ افغانان حرام نمکه نه يو، چې د دوستانو مرستې هېرې کړو او نه دومره زموږ د نفس د عزت درجه شکته ده، چې نور دې د خپلو مرستو په راکړې سره زموږ تحقير او توهين وکړي، ژوندۍ ببلګه يې د مرحوم داود خان او برژنېف اخرنۍ ليدنه ده، يو وخت د شوروي مشر برژنېف د خبرو په ترڅ کې و غوښتل، چې مرحوم داود خان د خپلو مرستو او همکاريو تر احسان لاندې ګرمیو کې تېرې کړې، خو کله چې روسي شکېلاکګرو په افغانستان د تېري او حاکميت منګولې خښې کړې نو همدا د متحده آيالاتو ستر طاقت په وېره او بيم کې پرېووت، چې بيا نو د همدې سر لوڅو او پښو لوڅو افغانانو د سرښندنې په برکت د شوروي ديکتاتور کمونستي نظام ړنګ او د امريکا متحده ايالات په نړۍ کې د ميدان يوائيني ستر طاقت وګرځېد، نو دلته و، چې افغانان هېر او د هغوی کارنامې د تاريخ کنډې ته وسپارل شوې، خو بيا هم همدې مېرنې ملت د پاکستان، ايران او شمالي ګاونډيو هېوادونو د لاسوهنو او تېريو سره سره له خپلې خاورې څخه ساتنه وکړه، چې شاغلی کرزی هم د هماغو اتلوالو څخه يو اتل دی. که چېرې د ۲۰۰۱ د سپټامبر د يوولسمې تراژېدي په متحده ايالاتو کې نه وای واقع شوې نو افغانان به تر اوسه پورې په کورنيو جګړو کې بوخت وای، خو کله چې خړو او سپېرو ګردونو د نيويارک د اوسېدونکو ښکلې ودانۍ په خاورو ولړلې، نو بيا امريکايان د جنګ، جګړې، بم، وژنې او ورانيو په مفهوم پوه شول او د خوارو او هېرو شويو افغانانو مرستې ته يې د نړيوالو صلح دوستو هېوادو ترڅنګ را ودانګل، چې بيا د موقتي دورې او انتقالي دورې لپاره زموږ هېواد د نړيوالې مرستې په وسيله د بن له کنفرانس څخه رانيولې بيا تر ننه پورې د سوکالۍ او مترقي په لور اوچت ګامونه واخيستل. موږ افغانان حرام نمکه نه يو، چې د دوستانو مرستې هېرې کړو او نه دومره زموږ د نفس د عزت درجه شکته ده، چې نور دې د خپلو مرستو په راکړې سره زموږ تحقير او توهين وکړي، ژوندۍ ببلګه يې د مرحوم داود خان او برژنېف اخرنۍ ليدنه ده، يو وخت د شوروي مشر برژنېف د خبرو په ترڅ کې و غوښتل، چې مرحوم داود خان د خپلو مرستو او همکاريو تر احسان لاندې راولي او د يو غلام په څېر دی د خپلو خبرو او هدايا تو اورولو ته و هڅوي، خو مرحوم داود خان په ډېر شدت د برژنېف خبر غوڅې له مجلس څخه بېرون او آن تر دې چې د خپلې کورنۍ تول غړي يې د افغانستان د سرلوړۍ او آزادۍ په سر قربان کړل، خو د نورو اوربدونکی نه شو، چې تاسو عالي جناب تر ښه خبر ياست. موږ د متحده ايالاتو د ټولو مرستو بسپنو او همکاريو څخه مشکور او ممنون يو، خو دا اجازه هيڅاته نه ورکوو، چې يا دې زموږ د هېواد پر مشر نيوکې وکړي او يا دې د دې خاورې ارضي تماميت ته سترګې پټې کړي، موږ افغانان لوړه، تنده، او د مادي دنيا ټول تکاليف منلای او زغملای شو، خو تحقير، غلامي او هېواد پلورنه نه شو زغملی دا چې د نړۍ د قانون له مخې د متقابل احترام ژمنه د هر چا لپاره لازمي ده همداسې موږ افغانان هم هېڅکله نه د چا د هېواد پر مشر نيوکې کړي او نه مو د چا په کورنيو چارو کې لاسوهنه کړې ده. وي به داسې مشران، چې د خپل ملت هېواد او ان چې له خپلو کورنيو سره د خيانت مرتکب شوي وي، خو هېڅکله به د افغانانو له خولې څخه کومه د توهين او يا تحقير خبره نه وي راوتلې. هر څوک په خپل کار ښه پوهېږي.

پاتې شوه د جناب حامد کرزي صاحب په هکله، هغه واحد ملي مشر په اوسنۍ نړۍ کې دی، چې اول يې د خپلو شتو جايداد او کورني ژوند په هکله د کابينې پر وړاندې هرڅه په ډاګه او په کلکه يې غوښتنه وکړه، چې د ده جايداد او سرمايه دې ثبت شي که څه هم دا د يوې مشهورې او سرمايه دارې کورنۍ غړی دی، د خپل قوم او کلي خانان دي که څه هم د افغانستان په اومنيو حالاتو کې (هرڅه چې کوې کوي يې پوښتونکی څوک نشته) ډېر د غريبو کورنيو غړي اوس په ملياردونو ډالر له نامشروع لارې د نړۍ په بانکونو کې ذخيرې لري، ډېرو جنابانو د ملت مال په شخصي تجارتونو کې لګولی دی، خو کرزی صاحب فکر نه کوم، چې يوه افغانی يا يو ډالر په شخصي حساب کې ولري او يا دې د دې مظلوم ملت د وينو په پلورلو ځان ته بنګلې او بلډنګونه جوړ کړي وي، د ډېر عادي ژوند خاوند او ډېر بې کېره انسان دی، چې دا نه يوائې زما بلکې د افغانستان د ټولو هغو اوسېدونکيو، چې له دې ملت سره مينه او زړه سوی لري نظر دی او بيا دا چې کرزی صاحب د يو قانوني ملي جرګې له خوا د انتخاباتو له لياړې د انتقالي دورې لپاره د ملت د استازيو له خوا د دولت د مشر په توګه ټاکل شوی دی، هغه ولسي مشر چې د ولس له خوا قدرت ته ورسېږي، نو هغه بيا د هماغه هېواد ولسي مشر ګڼلی شي، مشر ته د توهين او تحقير مانا، ټول ملت ته په سپکه سترګه د کتلو مانا ورکوي، چې بيا دارنګه حالت د هېواد د وګړو د زعم او تحمل څخه لرې ښکاري، زه د يو مسلمان افغان په توګه له جناب سفير صاحب څخه په کلکه هيله کوم، چې خپل هېواد ولس مشر د هغه ليکوال ليکنو ته متوجه کړي، چې زما د ولس مشر په هکله يې ليکنه کړې ده، نه يوائې نومورې ليکوال بلکې د متحده ايالاتو حکومتي چارواکو ته پکار دي، چې په همدې مورد کې د معذرت او عفوې غوښتنه د افغانستان له ټول ولس څخه وکړي، دا ځکه چې ډيموکراسي او متقابل احترام په ننني نړۍ کې يو منل شوی اصل دی، دا چې موږ له متحده ايالاتو سره دوستي او ملګرتيا لرو او يا يې کوو دا په دې معنا نه ده، چې هر څوک دې د دوستي په نامه پر موږ ملنډې ووهي او سپکاوی دې کوي او موږ دې ورته خاندو، دا هغه ملت دی، چې له هرڅه څخه تېرېدای شي، خو له خپلې خاورې، خپل نوم، خپل عزت، خپل وقار او له خپلې لوړې شملې نه هېڅکله نه شي تېرېدای!

ټيټ مې مه بوله غورځنګ را باندې مه کړه
زه په دې افتاده ګي کې لوی ګرنګ يم

په ډېر درنښت
محمد اصف صافی

خدمت یونسف برای ۸۵ هزار زن در بامیان

هشتاد و پنج هزار تن از زنان در بامیان از خدمات بهتر صحی که از سوی اداره یونسف سازمان ملل متحد فراهم می گردد مستفید می گردند. اداره یونسف با انتشار اطلاعیه یی خبر داده است که این خدمات شامل بهتر شدن وضعیت صحی زنان و کودکان در آن ولایت است که مصرف مالی آن توسط کشور های کانادا و بلجیم تهیه می شود. گفته شده است که این کمک تازه بهبود قابل ملاحظه را در زندگی زنان در نقاط مرکزی افغانستان فراهم می کند. به اساس ارقام منتشره از سوی سازمان های صحی سالانه صدها تن از زنان باردار در افغانستان به اثر بیماری های ولادی هلاک می شوند. وزارت صحت عامه با کمک جامعه جهانی در تلاش است تا کمک های صحی را به نقاط دور افتاده از مرکز گسترش بدهد.

شبکه موتر ربایان ردیابی خواهد شد

تحقیقات از مردی که در درگیری روز جمعه در ولسوالی گربز ولایت خوست زخمی شد توسط پولیس آغاز شده است. این در گیری زمانی رخ داد که افراد پولیس یک گروهی را که متهم به ربودن موتر ها اند تحت تعقیب قرار داده بودند. این گروه در منطقه گربز به روی افراد پولیس آتش کشودند. پولیس می گوید، که گروه موتر ربایان فرار کرده و تنها یک موتر ی که در داخل آن لکه های خون دیده می شد به دست پولیس افتاد. گفته می شود امکان دارد این فرد بازداشت شده تمام اعضای گروه دز دان را به پولیس معرفی کند.

هفده جنګ جوی ...

این رویارویی که روز چهارشنبه روی داد، ظاهراً خونین ترین درگیری در سال جاری میان ائتلاف تحت قومانده امریکا و بقایای رژیم طالبان که با القاعده همکاری می کنند بوده است.این تلفات در جریان عملیات مشترک نیروهای افغان و امریکایی، با پشتیبانی هلی کوپترهای امریکایی در ولایت کندهار، پایگاه سابق طالبان، به جنگ جویان وارد شد.یک سخنگوی ولایت کندهار گفت ۱۳ عضو طالبان کشته و هشت نفر از انها دستگیر شده اند. این درحالی است که امریکا تلفات شورشیان را ۱۷ نفر اعلام کرد و گفت ۳ تفنگدار دریایی امریکا نیز جراحات سطحی برداشتند.چنین زد و خوردهایی به خصوص در این منطقه، که هسته طالبان تلقی می شود، مرتباً درحال افزایش بوده است.طی یک هفته گذشته گزارش هایی بر کشته شدن چندین جنگ جو در ولایت همسایه، جایی که چهار تن از نیروهای خاص امریکایی در اثر انفجار مین جان باختند، شنیده شده است.تصور می شود شورش ها به انتخابات عمومی که قرار است در ماه سپتامبر برگزار شود مرتبط باشد.نیروهای طالبان سوگند خورده اند این انتخابات را مختل کنند و علیه کسانی که در پروسه انتخاباتی مشارکت دارند و همچنین علیه دولت و نیروهای خارجی اعلان جهاد داده اند.این گروه قبلاً در هفته جاری مسوولیت قتل پنج کارمند سازمان غیر دولتی "داکتران بدون مرز" را به عهده گرفت. آن حادثه با انزجار و محکومیت گسترده روبرو شده بود.

ولسمشر دې د مخدره ...

اوس هغه وخت رارسيدلی چې ولسمشر کرزی دمخدره موادو کارکوونکی چې دهاليوډ دفلم دستورو په خير ډېر ښه او آرام ژوند لري محاکمه کړي. کوستا دغه راز دنړيوالو مرستندويه ټولنو څخه وغوښتل چې دافغان بزګرانو سره دنورو خيزونو په کرلو کې مرسته وکړي.

ماريا کوستا چې تيره اونۍ يې د افغانستان شمالی اولويديځې سيمې کتلې وايي. بزګرانو دمخدره موادو دکارکوونکو تر پورونو لاندې راغلی او له دې املې مجبور دی پخپلو ځمکو کوکنار وکري. ده نړيوالو ته وويل چې په افغانستان کې داويو ځاګاني وکاږي سرکونه جوړ کړي له بزګرانو سره مرسته وکړي ترڅو هغوی خپل نور حاصلات په اسانۍ په بازارونو کې وپلوري.

راتلونکی دځوانانو نوده

متصدی صفحه: ناصر بشر

چرا ما به تعلیم و تربیه نیاز داریم؟

ضرورت فراگیری تعلیم و تربیت امریست حتمی و ضروری. بشر هزاران سال است که برای پاسداری و ترقی معارف و علوم رنج و زحمت را بخود هموار ساخته است.

این میراث اجتماعی و انتقال آن از نسلی به نسلی دیگر توسط افراد جامعه بخصوص معلمان است که در این راه با دشواری ها و رنج های فراوان مواجه بوده اند.

زیرا اگر مردمان هر عصری بخواهند معارف و معلومات و عقاید، راه و رسم خود را به نسلهای بعدی منتقل دهند نا گزیرند مساعی و کوشش های پیهم را در راه فراه گیری تعلیم و تربیت فرزندان خود مبذول دارند، زیرا انسان برای دست یافتن به آن باید مساعی خویش را بکار اندازد، چون دانش بشری با آرزو و تمنای عاری از کوشش و فعالیت بدست نمی آید. معلم با نقل معلومات صحیح به اذهان

شاگردان، آنها را به افکار صحیح و مایه های شایسته علمی مجهز می نماید تا آنان نیز بنوبه، خود، همین صحت و استحکام علمی را در پیرامون خود، اعم از شاگردان و سایر مردم و در بزرگسالان بکار گیرند.

معلم باید طبعاً به کار معلمی علاقه و وابستگی طبیعی داشته باشد. معلمی که طبعاً به این شغل تمایلی ندارد نمی تواند معلم خوب و شایسته، محسوب گردد. زیرا باید معلم در بحث و گفتگو و مذاکره با شاگردانش منصف باشد. و اگر از شاگردی، گفتاری مفید و سودمند شنید به اهمیت و ارزش و سودمند بودن آن اعتراف نماید، ولو آن شاگرد فرد کم سن و سال باشد. زیرا اعتراف به اهمیت افکار صحیح دیگران از اهمیت علم و دانش بشمار می آید.

خصوصیات ذهنی معلم طوری باشد که معلم باید در تدریس خود بیانی را بکار برد که کاملاً رسا و گویا باشد و ثانیاً مقدمات راطوری ذکر کندکه مطالب اصلی از مطالب قبلی و فرعی قرار گیرد زیرا هر قدر معلومات روشن و منظم باشد آن مطالب دارای ارزش منطقی میباشد وبه آسانی به دیگران انتقال می یابد.

همچنان طرز تفکر و اندیشهء مربی باید سرمشق زنده ای از منطق و برهان باشد زیرا از این طریق میتوان نظم و ترتیب را در بیان مطلب رعایت نمود تا باشد معلم بتواند با بهترین و آسانترین شیوه و روش خوش آیند مطالب را به شاگردان تفهیم نماید و این مطالب با الفاظ شمرده و روشن ادا شود. به هر ترتیب می باید معلم از بهترین روش و قواعد، برای فهماندن مطلب به شاگرد استفاده نماید. الحاج عبدالعلیم

د رواني ناروغيو زياتوالی اود مخنيوي لارې

یو خو زمور تولنه د نړۍ د وروسته پاتی تولنو تر تولو وروستی هیواد شمیرل کیږی او له بلی خوا د څو لسیزو له اوږدو جګړو څخه راوتلی ده د وروسته پاتی تولنی تول وروسته پاتی دودونه هم په کې واکمن دی او لاتر اوسه پوری خلك پری باور او عقیده لری نو لدی امله زمور د هیواد په تولو کورنیو کې د بیلابیلو عواملو له امله روانی ناروغی زیاتې او زمور هیوادوال ورسره مخامخ دی. روانی ناروغان پداسی وروسته پاتی تولنو کې زیات وی خو د تداوی له پاره یې عصری درملونه په هماغه اندازه چې لازمه ده مثبتی نتیجی نشی ورکولی تر څو چې د هغوی په تداوی کې له روانی ډاکټرانو څخه مشوری ترلاسه نشی. تراوسه پوری زمور د هیواد په سطحه د روانی امراضو د تداوی لپاره یوازی یوه شفاخانه لرو په یوه هیواد کې د یو روانی روغتون شته والی د دومره زیاتو ناروغانو لپاره چې په سلو کې ۹۸فیصده جوړوی له ستونزو ډکه خبره ده. د نړۍ په نورو هیوادونو کې په هر روغتون کې روانی ځانګی موجود وی له روانی ناروغ سره روانی ماهر ناسته ولاړه کوی له ناروغ سره مرکه کوی د ناروغی د شاو خوا په هکله پوښتنه کوی، د هغه د ژوند او کورنۍ په هکله د هغه د ورځینو ستونزو په هکله ورسره غږیږی تر هغه پوری چې ناروغ د ناروغی علت پیداکړی، کله چې د ناروغی علت له منځه یوورځل شی د ناروغ حالت ښه کیږی خو له بده مرغه چې زمور په هیواد کې د روانی ناروغیو لپاره تر اوسه پوری چندان پاملرنه نه ده د ورځینو او اقتصادی ستونزو او د جګړو له مخی زمور په تولنه کې اکثره ځوانان له روانی ناروغیو سره مخامخ شوی او زیاتره د خپلو ورځنیو ستونزو څخه د خلاصون په خاطر د نشیی موادو په لوګیو کې ځانونه له غمونو څخه پټوی او ځینی په نشه کې له ستونزو پټیږی.

پدی وروستیو کې چې په هیواد کې د روانشناسی د روان شناسی د ټولنی په جوړیدو سره لازمه ده چې د هیواد په روغتونونو کې د نورو روانی کلینکی څانګو د جوړولو په برخه کې زیاتره پاملرنه وشی څو وکړای شو د هیواد اکثریت روانی ناروغان د روانی مشورو او لارو چارو پواسطه روغ او دصحت څښتنان شی او د نورو بې ځایه لګښتونو څخه مخ نیوی وشی.

کوډې او تعویذونه د ځلکو ترمنځ دښمنی رامنځته کوي

زما نوم جان محمد دی ډیر کلونه پخوا په کابل پوهنتون کې محصل وم په هغه وخت کې زما کاکا په وطن کې د څه ناروغی له املې په حق ورسید. کاکامی یوازې یوه لور درلوده چې له ما څخه ۱۲ کاله مشره وه لدی املې چې زما د کاکا میراث بل څوك وانخلی د هغه لور یې ماته په نامه کړه. که څه هم ما په هغه وخت کې مخالفت کولو خو یو بل راته ویل چې مه کوه دا د پښتو وطن دی. زه د ۲۶ کالو وم او میرمن مې د ۳۸ کالو وه ماته له واده وروسته خدای دوه لونې او یو زوی راکړ. د جنګونو په کلونو کې می یوه زوی او یوه لور په بمباریو کې مړه شول یوازی یوه لور می پاتی شوه او هغه هم واده شوی ده اصلی خبره داده چې زه او ښځه مې تربوران وو هیڅکله یو بل ته تسلیم نه شولو تل به سره په مورچلونو کې ناست وو.

دوه ستونزې موجود وی یو دا چې زه تعلیم یافته وم بدرد او ښکنځل مې نه خوښیدل. دویم واده می هم زړه نه منلو ماوی چې ولی د چا ژوند خراب کړم. بس له یو ستر جنجال سره اخته وو کورنۍ فضا مو خړه پړه وه. هغی ماته د احترام سر نه ټیټاوه اوس می میرمن په نه درلودلو څخه په استفاده غواړی چې د تعویذونو په کولو زمور خلك تیر باسی او پیسی ترلاسه کړی. که څه هم دا کاروبار په پرون کې زیات و خو نن سبا یې کاروبار ډیر شوی دی پخوا به د سړکونو په غاړه ناست وو خو اوس یې لا دوکانونه هم ورته نیولی دی.

که څه هم د داسی کسانو شته والی په لومړی نظر سرسری ښکاری خو په واقعیت د داسې تعویذ ګرو او ښاپیرګرو پواسطه په کورنیو کې زیاتی دښمنی او خوابدی رامنځته کیږي.

دوی په بیلابیلو پلمو سره ورغلو نارینه وو او ښځو ته وایی چې په تا باندی کوډی او تعویذونه شوی دی دهغه شخص داسی رنګ دی او داسی یې ونه ده او داسې یی عمر دی.

د پورتنیو دول دول نښو نښانو پواسطه ورته وایی چې زه به د خپلو پیریانو په واسطه په تا باندی شوی تعویذونه راوباسم یا به یې مسترد کړم.

پدی ډول نه یوازی دا چې پیسی ترلاسه کوی بلکی ناروغان په خپل ځان باندې دهغه په وینا د تعویذونو د کوونکو په هکله راز راز ګمانونه کوی. او د کورنیو ترمنځ خوابدی او بد ګمانی رامنځته کوی او د کورنیو ترمنځ د دوستی فضا خرابوی.

په لومړی ګام کې باید زمور هیوادوال پداسی تعویذونو او کوډو باندې عقیده ونلری او د خپلو ناروغانو د ناروغی د تثبیت لپاره باید ماهر ډاکټرانو ته چې په خپله ځانګه کې تخصص ولری ورشی او د عصری درملونو پواسطه د خپلو ناروغانو تداوی وکړی.

له بلی خوا امنیتی ځواکونو او مسوولینو ته لازمه ده چې په ښارونو او کلیوالو سیمو کې د داسې اشاصو له شته والی چې د خلکو له وروسته پاتی والی څخه د خپلو جیبونو د ډکولو لپاره استفاده کوی د کورنیو ترمنځ دښمنی رامنځته کوی مخه یې ونیول شی.

داسې اشخاصو ته باید اجازه ورنه کړل شی چې په چل او فریب سره د کوډو د کولو یا مسترد کولو په هکله په ځان باندی پیریان راولی او پدی توګه د هیوادوالو له جیبونو څخه پداسی حال کې چې تول هیواوال له زیاتو اقتصادی ستونزو سره مخامخ دی. پیسی وباسی. موږ باید د خلکو د ذهنونو په روښانولو کې زیاته وندې واخلو. زمور خلك باید پدی پوه شي چې کوډی او تعویذونه ناروغی رامنځته کولای نشی او ناروغی هم له منځه وړلی نشی.

کیدای شي چې په رواني لحاظ یو څه د ناروغی په شدت کې کموالی د موقتی وخت لپاره شی خو د تل لپاره دردونه او ناروغی دوا کولای نشی او زمور هیوادوال باید د داسی پیسه دوستو خلکو په تیرایستلو

له ځوانانو سره د زړه خواله

او باید چې ودونه د هلك او نجلی په خوښه سره سرته ورسیږی.

په زیاتو مسائلو کې باید د پښتو خبری رامنځته نه کړی زما ژوند همدی بی ګټې دودونو خراب کړو څکه چې د نه توافق په نتیجه کورنۍ فضا له ناندرو څخه ډکیږی او دا ناندری د اولادونو په روانی او صحی برخه او ذکاوت باندی ناوړې اغیزی کوی. باید درنی کورنۍ د نوو کورنیو د جوړیدو لپاره د پورتنیو ټکو ته متوجی وی.

حق رسیدلی ده. او زه د ۴۵ کالو څخه زیات یم پدی عمر کې زما د کور کاروبار ځوك وکړی یو عالم جنجالونه راته پیداشوی. زما غوښتنه له درنو کورنیو څخه داده چې د خپلو لورګانو او بچیانو د ودونو په هکله زیات فکر وکړی. د دواړو د عمر اندازی په پام کې ونیسی.

بوش عازم فرانسه می شود

جورج بوش، رییس جمهور امریکا، دیدار خود از ایتالیا را خاتمه می دهد و برای بازدید از فرانسه عازم این کشور می شود تا ضمن شرکت در مراسم سالگرد آغاز عملیات نظامی آزادسازی فرانسه در جنگ دوم جهانی، با ژاک شیراک، رییس جمهور این کشور نیز ملاقات و گفتگو کند.سفر اقای بوش به ایتالیا، که دولت آن از موافقان سیاست امریکا در قبال عراق است، با تظاهرات گسترده علیه وی همراه بود در حالیکه فرانسه با بخش های عمده یی از قطعنامه پیشنهادی امریکا و بریتانیا به سازمان ملل در مورد عراق ابراز ناخرسندی کرده است. فرانسه از جمله پنج کشور دارای حق ویتو در شورای امنیت سازمان ملل است و مخالفت ان کشور با هر قطعنامه یی می تواند مانع از تصویب آن شود. دلیل رسمی سفر اقای بوش به فرانسه شرکت در مراسم شصتمین سالگرد پیاده شدن نیروهای متفقین در سواحل فرانسه در خلال جنگ دوم جهانی است که به شکست آلمان نازی منجر شد و در این مراسم، ملکه بریتانیا، رییس جمهور فرانسه و صدراعظم المان شرکت خواهند داشت.قبل از ترک ایتالیا، اقای بوش ملاقات دیگری با سیلویو برلوسکنی، صدر اعظم ایتالیا، دارد.

تاجکستان به روسیه پایگاه نظامی دایمی داد

از قول منابع دولت روسیه اعلام شده که تاجکستان موافقت کرده است زمین های لازم برای ایجاد یک پایگاه نظامی دایمی را به طور رایگان در اختیار دولت روسیه قرار دهد.در پایان گفتگوهای امامعلی رحمانف و ولادیمیر پوتین، رییسان جمهور تاجکستان و روسیه، از قول سرگی پریخودکو، از مشاوران رییس جمهور روسیه، گزارش شد که اعطای این اراضی به دولت روسیه علاوه بر زمین هایی در تاجکستان است که در حال حاضر توسط اردوی روسیه به منظور تمرین انداخت مورد استفاده قرار می گیرد. آقایان رحمانف و پوتین در استراحتگاهی در سواحل دریای سیاه با یکدیگر ملاقات و گفتگو کرده اند.به گفته مشاور رییس جمهور روسیه، تاجکستان همچنین مالکیت روسیه بر یک مرکز کنترول فضایی را تایید کرده است که در ابتدا برای برنامه های فضایی شوروی سابق ساخته شده بود.در مقابل، رییس جمهور تاجکستان از همتای روسی خود خواسته است دوره ماموریت قوای سرحدی روسیه مستقر در مرز تاجکستان تا پایان سال ۲۰۰۶ میلادی تمدید شود.آقای پریخودکو همچنین اشاره کرده است که رهبران دو کشور در مورد حل و فصل قروض دولت تاجکستان به روسیه به توافق هایی دست یافته اند هرچند وی جزییات بیشتری را در این زمینه ذکر نکرد.به گفته کارشناسان، موافقت تاجکستان با اعطای تسهیلات نظامی جدید به روسیه به منزله تقویت حضور نظامی روسیه در منطقه آسیای میانه است.در حال حاضر، ایالات متحده چند پایگاه نظامی را در این منطقه، که زمانی بخشی از اتحاد شوروی سابق را تشکیل می داد، تاسیس کرده است.

تظاهران ضدجنگ ایتالیایی ها در جریان دیدار بوش



درحالی که جورج بوش، رئیس جمهور امریکا، سرگرم دیدار از روم، پایتخت ایتالیا بود، ده ها هزار تظاهرکننده ضدجنگ به جاده های این شهر ریختند. جمعیت تظاهرکننده فریاد می کشید: "بوش نمی خواهیم، جنگ نمی خواهیم".سازمان دهندگان جمعیت تظاهرکننده را ۱۵۰ هزار نفر اعلام کرد، درحالی که پولیس گفت ۲۵ هزار نفر در تظاهرات شرکت کرده اند.این تظاهرات ساعاتی پس از دیدار جان پال دوم با آقای بوش انجام می شد.پاپ در ملاقات با جورج بوش گفت حاکمیت عراق باید هر چه زودتر به مردم این کشور واگذار شود و اوضاع این کشور باید هر چه سریع تر به حال عادی برگردد. پاپ، که یکی از منتقدین جنگ عراق بوده است، این اظهارات را در بیانیه یی که از قبل آماده کرده بود، ایراد کرد. او در این بیانیه در ارتباط با وضعیت در شرق میانه و تداوم خطر تروریزم برای جامعه بین المللی ابراز نگرانی کرد. جان پال دوم به علت وضعیت نامساعد جسمی خود این بیانیه را از قبل آماده کرده بود.

راه ارتباطی دو کوریا گشایش می یابد



مقامات کوریای جنوبی و کوریای شمالی موافقت کرده اند راه زمینی جدیدی را به منظور ارتباط بین دو کشور مورد بهره برداری قرار دهند.این راه زمینی که به تازگی تکمیل شده از منطقه غیرنظامی حایل بین دو کوریا عبور می کند که در خلال پنجاه سال اخیر یکی از نقاط حساس جهان بوده است و دو کشور به ایجاد تاسیسات دفاعی گسترده در دو سوی آن مبادرت کرده اند.توافق بین دو کوریا در پی ابراز آمادگی کوریای جنوبی برای اعطای حدود ۴۰۰ هزار تن کمک غذایی به دولت کمونیستی کوریای شمالی و موافقت هر دو کشور برای کاهش تنش در مرزهای زمینی و آبی منطقه غیرنظامی به دست آمده است.همچنین، قرار است استفاده آزمایشی از خط آهن بین دو کوریا که اخیراً بازگشایی شده است به زودی آغاز شود.انتظار می رود این دو طرح از ماه اکتوبر سال جاری مورد بهره برداری قرار گیرد.نمایندگان دو کشور در جلسه دیروز، همچنین اعلام کردند که یک سازمان مشترک را برای ایجاد یک منطقه صنعتی در شمال خط مرزی تاسیس می کنند.براساس توافق بین دو کشور، تنها شرکت هایی اجازه سرمایه گذاری در این منطقه را خواهند داشت که از سوی کوریای جنوبی معرفی شده و مورد تایید کوریای شمالی قرار گرفته باشند. ایجاد این منطقه که می تواند فرصت سرمایه گذاری جدیدی را در اختیار شرکت های کوریای جنوبی قرار دهد به عنوان نشانه یی از میزان تمایل شمال به همکاری اقتصادی با همسایه جنوبی خود مورد توجه خواهد بود. به گفته خبرنگاران، کوریای شمالی که از سوی امریکا تحت فشار قرار گرفته تا برنامه های هسته یی خود را متوقف کند می کوشد با بهبود روابط خود با کوریای جنوبی وجهه مساعدتری از خود نشان دهد.

باید کاری ...

مردم میدانند که مسلماً عملکرد های این وزیر طی مدت زمان اندک کارش برای عده یی از اعضای کابینه ومقامات دولت انتقالی با آنکه از طرف شخص رئیس دولت جداً حمایه میشود خوش آیند نخواهد بود.

زیرا مافیای استفاده جویی و کارشکنی که دهها انجو را کنترول میکنند، ازین دلسوزی های این وزیر کابینه دلخور وناراحت هستند و در هر صورت جلو فعالیتها ودهان جوال نگرفتن اورا خواهند گرفت.

از حقیقت و اصل سخن دور نیفتیم که دولت باید در هر صورت سعی کند، بوسیله این وزیر کابینه کم از کم یکی دو وعده را عملی کند که مردم اطمینان یابند که عملکرد های دولت انتقالی اسلامی در بعضی موارد جنبهٔ تحقق به خود گرفته میتواند.

زیرا ما صرف سه چار ماه بیشتر برای انتخابات فرصت نداریم، کم از کم درین مدت اندک به گفتهٔ آقای کرزی که در جلسه کابینه تصریح کردند، باید کار موثری انجام داد.

دلایل افزایش خشونت ...

سربازان مدت بسیار بیشتر را در منطقه میگذارنند تا به بزرگان و مردم عادی قریه جات آشنا شوند که گفته سخنگوی نیروهای ائتلاف به جمع آوری اطلاعات در مورد شبه نظامیان کمک می کند. این سخنگوی همچنین گفت که بیشتر جنگجویان به نظر می رسد که از داخل افغانستان دست به حملات می زنند و نه از پاکستان. از سخنگوی در باره احتمال اعزام نیروهای جدید ائتلاف مناطق شمال غرب کشور جای که روز چهارشنبه پنج کارمند صحی موسسات خیریه کشته شدند پرسیده شد وی گفت که مقامات این نیروها در حال بررسی تاثیرات این کشتار ها برای اعزام نیرو هستند.

پنجاه نفر ...

خلع سلاح حدود دو هزار تن سبب کاهش نیروهای امنیتی شده است. در حالیکه در نظر است یک هزار و شش صد تن دیگر هم بر اساس برنامه DDR خلع سلاح شده و به زندگی ملکی برگر دانده شوند. او همچنین گفته است این موضوع باعث افزایش فعالیت های طالبان و افراد القاعده و در نتیجه سبب نگرانی مردم شده است. و این قوماندان گفته است در جریان هفته گذشته در ولایات جنوب غرب به شمول چهار امریکایی شامل نیروهای ائتلاف سربازان افغان و جنگجویان طالب پنجاه نفر کشته شده اند.

ائتلافي خواکونه په ...

چې دپنجشنبې په ورځ کې دکنړ په ولایت کې دمتحده ایالتونو عسکر دننګلام په ښار ګوټی کې دراکټونو تر برید لاندې راغلل. دواړه جګړې هغه وخت پای ته ورسیدې چې کله دمتحده ایالتونو جنګي الوتکې په جنګیالیو باندې دبرید لپاره راوغوښتل شوې. ده زیاته کړه چې امریکایانو ته هیڅ مرګ ژوبله نه ده رسیدلې او د هم اورپکو دمرګ ژوبلې په اړه څه معلومات نه لري.

د وزیرانو په شمیر ...

چې دولسمشر کرزی پلان دوه برخې لري په لومړی پړاو کې به دوزیرانو شمیر شلو ته راکم شي او وروسته به دکابینې شمیر نور هم لږ شي. دغه مقام ویلی چې هدف دادی چې د حکومت په کارونو کې موثریت او ښه والی راشي. د ده په وینا تاکل شوې چې دنوې پلان له مخې ځینې وزارتونو کې مدغم شي.

د میرمنو د نوم لیکنې لپاره....

پټیل شوی چې دولسمشرۍ دتاکنو دمشروعیت لپاره باید په ټول افغانستان کې لس میلیونه وګړې نومونه ثبت کړې خو ویل کیږي چې تر دې مهاله دریم میلیونو وګړو خپل نومونه لیکلی دی.

د کورنیو چارو په وزارت ...

کوم چې ددوی پولیسو دکابل ښار له بیلابیلو سیمو څخه راټول کړی وو او غوښتل یې دکورنیو چارو وزارت وسله تون ته یې واستوي. خو نور مهمات او چاودیدونکی مواد نه دی چاودلي.

دکورنیو چارو وزارت چارواکی په دغه پیښه کې دتروریستانو او مخالفینو هر راز لاس درلودل رد کړل.

اراده

زیر نظر هیات تحریر انتشار مییابد

مؤسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد

مدیر مسوول: ظهور افغان

معاون: سهراب "دیدار"

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکز نشرات افغان

اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است

کمپوزودیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"

ERADA Daily

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد

آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد) خانه نمبر ۹۵

تیلفون مبایل مدیر مسوول: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷

موبائیل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center

Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan

eradadaily@hotmail.com

چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان قیمت یک شماره ۳ افغانی